DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۶۷

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ل

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

په کابل کې د ایران پر خلاف لاریون وشو

په پلازمېنه کابل کې سلګونو کسانو د ایران له لوري د افغانانو د اعدامولو او ځورولو په مخالفت کې د ایران د سفارت مخې ته لاریون وکړ.
لاریونکوونکي د هغو اعدامونو او ځورونو له امله خواشیني او غوسه وو، چې په دې وروستیو کې یې په اړه په رسنیو کې ګڼ راپورونه خپاره شوي دي.
که څه هم د ایران حکومت تر اوسه پورې د افغانانو اعدامونو او ځورونې نه مني، خو د افغانستان دولسي جرګې ځینې غړي وایي، له شاوخوا **۳مخ**

لسم کال - دویمه دوره، ۷۶۷ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۳٤ ګڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د غوایي ۱۳ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۱۹ مه د ۲۰۱۰ دمې ۳ مه

مردم نان می خواهند و امنیت

د موکراسی حربهٔ فریبنده یی برای اغفال مردم و فرار از مسوولیت



در هشت سالی که از تحول جدید در افغانستان پشت سر ماند، کدام تحولی که در بهترشدن زنده گی مردم نقش قابل ملاحظه و ملموس داشته باشد، به نظر نرسیده است. گراف فقر و فلاکت و بیکاری و رشوه و بدامنی و فساد اداری و فساد اخلاقی روبه بالاست.

در همین موازات، حکومت و جامعهٔ جهانی برای کتمان این ناکامی ها، محورهای تبلیغاتی برای خود شان دارند که از همه مهمتر مسألهٔ ورود و احیای دموکراسی در افغانستان می باشد. از نظر آنها افزایش تعداد رسانه های منتشر و پخش بهترین مثال و محک رونق گرفتن دموکراسی در افغانستان است. دونرها و موسسات کمک کنندهٔ بین المللی برای اینکه جلوه فریبندهٔ دموکراسی در افغانستان زیادتر شود، دهن جیب شان را باز گذاشته و تحت عناوین گوناگون شمار تلویزیون ها و رادیوها را به نحوی بالا برده اند که ده ها بار بالاتر از نیاز کشور است. این اقدام جامعهٔ بین المللی تا آنجا که معلوم و مبرهن است، به سه مرام و مقصد کارگزاری می شود. مقصد نخستین همان است که تکاثر و افزایش تعداد رسانه ها، دلیل برآن شود که پدیده یی به نام دموکراسی در افغانستان رونق افزا شده و حتا که شمار رسانه های آزاد و خصوصی در افغانستان از کشورهای همسایه و منطقه و حتا بسیاری کشورهای اروپایی و امریکایی بالازده است. مرام دوم این است که با تورم بازار رسانه یی و به وجود آمدن یک جنگل مطبوعاتی، رسانه هایی که واقعاً نیات پاک مردمی دارند و به خاطر انگیزه و آرمان و هدف ایجاد شده اند، نه به خاطر دسترسی به منابع پولی، مجال رشد و ترقی را از دست دهند و نتوانند، در میان توده های افغانستان راه شان را پیداکنند. هدف بسیار مهم **ص۳**

ولې د ولسي خلکو تلفات زیات شوي دي؟

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وایي، چې د روان کال په وري کې د تېر کال د همدغې میاشتې په پرتله د ولسي خلکو مرګ ژوبله او د مخالفانو بریدونه زیات شوي دي، خو بالعکس د پولیسو زیانونه کم شوي دي. د وزارت ویاند زمري بشري ووېل، د روان کال پر لومړۍ میاشت د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د ناامنۍ ۵۰۰ پېښې شوې، چې د تېر کال د لومړۍ میاشتې په پرتله دېرش سلنه زیاتوالی ښیي. په دغې ډله کې ډېرې پېښې په کندهار، غزني، هېلمند او خوست ولایتونو کې شوې چې لامل یې ماینونه، چاودنې او ځانمرګي بریدونه وو. په دوديز ډول هر کال د هوا له ګرمېدو سره په افغانستان کې د ناامنۍ پېښې ډېرېږي. د کورنیو چارو وزارت ویاند زمري بشري وایي، د مخالفانو د بریدونو له زیاتوالي سره سره د پولیسو زیانونه راکم شوي دي.

نومورې د پولیسو دزیان د کموالي لامل له مخالفانو سره په جګړه کې د هغوی د ورتیا لوړېدل او پر وسلو ښه سمبالېدل وبلل. د کورنیو چارو وزارت ویاند ووېل، د مخالفانو زیانونه د تېر کال د وري د میاشتې په پرتله په سلو کې اته زیات شوي دي. د هغه په وینا اوس د مخالفانو پر ضد جګړه کې ډېره تکیه پر استخباراتي معلوماتو کېږي، چې له مخې یې ځینې سیمې او کورونه په نښه کېږي او د شپې له خوا ناڅاپي چټک عملیات پرې کېږي، چې مخالفانو ته په کې زیان اوړي.

ده زیاته کړه چې په تېره میاشت کې ۳۵۰ مخالفان وژل شوي، نږدې سل تنه ټپیان شوي او تر ۲۵۰ زیات نیول شوي دي. د بي بي سي د راپور له مخې، که څه هم د کورنیو چارو وزارت د بریدونو له زیاتوالي سره د مخالفانو د زیان د زیاتوالي خبره هم کوي، خو په تېرو څو کلونو کې تجربو ښوولې چې د مخالفانو مرګ ژوبله د جګړې پر تودېدا او سړېدا ډېره اغېزه نه لري.

کاونټرپارټ نړیوالې اداړې د عامه پوهاوي ورکشاپ جوړ کړ

ارادہ - کابل کاونټرپارټ نړیوالې اداړې په پلازمېنه کابل کې د عامه پوهاوي پنځه ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ کړ. د عامه پوهاوي په هکله د روزونکو د تیاري دغه ورکشاپ ته د کابل په ګډون د هېواد له ګڼو ولایتونو څخه د اوو افغاني انجیوګانو د عامه پوهاوي لسګونه کارکوونکي رابلل شوي وو.

د عامه پوهاوي دغه ورکشاپ د پیاوړو استادانو له خوا پر مخ بېول کېده. ورکشاپ د تیوریکي معلوماتو تر څنګ د ګروپي او عملي کارونو برخه هم لرله، یاني د ورکشاپ معلومات د ورکشاپ د ګډونوالو له خوا بېرته عملي کېدل. له بېلابېلو اغېزمنو میتودونو څخه ګټه اخیستل ورکشاپ ګډونوالو ته زیات ارزښتناک او په زړه پورې کړی و. د ورکشاپ پر ګډونوالو ځینې لیکنې معلومات هم ووېشل شول، چې د اړتیا پرمهال یې لوستلی او ګټه ځنې اخیستلای شي.

د ورکشاپ موخه په افغانستان کې د مدني زده کړو پیاوړتیا او د خلکو د پوهې د کچې لوړول وو، څو خلک د دې وړ او دې ته وهڅېږي، چې په پرمختیایي او ولسواکو بهیرونو کې ونډه واخلي.

په پام کې ده، چې دغه ورکشاپ ته رابلل شوي کسان به خپلو ولایتونو ته ترستنېدو وروسته خپلو کاري ملګرو او د عامه پوهاوي کارکوونکو ته دغه وړ روزنیز سیمینارونه جوړوي، څو هغه څه چې دوی زده کړي له خپلو نورو ملګرو سره شریک کړي. دا به په ولایتونو کې د عامه پوهاوي له کارکوونکو سره د عامه پوهاوي د چارو په ښه ترسره کولو کې مرسته وکړي.

د ورکشاپ یو تن مسوول اجل عبید عابدي راته د دغه روزنیز ورکشاپ په هکله وویل: "دغه ورکشاپ له پنځو ورځو راهیسې پیل شوی او پر دوو ګروپونو وېشل شوی و. په دې ورکشاپ کې د ۱۰۵ شاوخوا ګډونوالو ګډون درلود. دا روزونکي، چې دلته په دې ورکشاپ کې دوی ته د عامه پوهاوي په هکله روزنه ورکول کېږي، دوی به د ورکشاپ تر پای ته رسېدو وروسته خپلو ولایتونو ته ځي او هلته به د ولایتونو په کچه نور خلک روزي او بیا هماغه روزنکي ساحو ته ځي او زمور پیغام به خلکو ته رسوي. زمور تولیز ټینګار د ټاکنو پر مسئله دی، ځکه مور پارلماني ټاکنې په مخ کې لرو. همدا شان مور نور پروګرامونه هم په پام کې لرو، لکه د وګړو د حقونو په اړوند، د حکومت د دندو او صلاحیتونو په اړوند، د قضا او محاکمو په اړوند او دا شان په ټولنه کې د ښځو د رول په اړوند. دا چې دا پروګرام د ۲۰۰۹ کال لپاره طرحه شوی و او پر همدې کال مو دا پروګرام په بریالیتوب سره سرته ورساوه، نو اوس غواړو چې د ۲۰۱۰ کال لپاره هم دا پروګرام پیل کړو. له شک پرته مور هغه تجربې چې له ۲۰۰۹ کال نه موزده کړې دي، زمور د راتلونکي پروګرام لپاره به هم ښې پایلې ولري."

له ولایتونو څخه راغلي ګډونوال له ورکشاپ څخه خوښ وو. د دا وړ ورکشاپونو جوړول یې د خپلو کارونو د ښه ترسره کولو او اغېزمنتیا لپاره ګټور وبلل. د دوی په وینا دا ډول ورکشاپونه کولای شي، د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوي په برخه کې ډېره مرسته وکړي.

له بغلان ولایت څخه راغلي د سید کاظم فاضل په نامه یوه تن ګډون کوونکي د همدې ورکشاپ په اړه داسې وویل: "له دغه ورکشاپ نه منظور د روزونکو لپاره روزنه ده او همداشان هدف یې دا دی، چې د ټاکنو په برخه کې موږ ولایتونو ته لاړ شو او خلکو ته د ټاکنو په هکله پوهاوی ورکړو. هره روزنه ځانته موثریت لري. زما په اند به دا بې ګټې نه وي. دلته د استادانو له خوا ښې لارښوونې کېږي او دا پروسه د ټاکنو په برخه کې ډېره ګټوره تمامېدای شي."

همداشان له ننګرهار ولایت څخه لطیفې سیعد هم ورته نظر درلود او زیاته یې کړه، چې: "دا ورکشاپ د ښځو په برخه کې هم اغېزمن واقع کېدای شي، هغې ووېل: "د دې پروګرام هدف دادی، چې په راتلونکو ټاکنو کې موږ په ښځه ډول خپل پیغام خلکو ته ورسوو او ټاکنې په ښه توګه ترسره شي. دا پروګرام به د ښځو په برخه کې هم ډېر موثر وي. په تېر کال کې چې موږ د ښځو په برخه کې څومره تجربه لرله، د تېر کال په پرتله چې ۶۰ یا ۷۰ سلنه وه، د دې ورکشاپ له برکته به انشاالله سږ کال ۹۰ سلنې ته لوړه شي."

دا ډول ورکشاپونه او پروګرامونه په داسې حال کې پیلېږي، چې را روانو پارلماني ټاکنو ته د ټاکنو کمېسیون د اعلان پر بنسټ شاوخوا څلور نیمې میاشتې پاتې دي.

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د افغان کډوالو پر وړاندې د ايراني حاکمانو نارواوې او د افغان دولت مرموزه چوپتيا

په هېواد کې د تېرو او روانو ناخوالو او لانجو يو مهم اړخ زمور ګاونډي هېوادونه دي. دوی تل په دې هڅه کې دي، څو په سيمه کې خپلو ناروا موخو ته د رسېدو په خاطر، په افغانستان کې د جګړو او تاوتريخوالو تبې ګرمه وساتي او په دې ترڅ کې، د خپلو شومو لاسوهنو لپاره لاره اواره کړي. زمور ګاونډيانو پر همدې ناروا وو هم بسنه نه ده کړې، زمور هغه شمېر مظلوم او بېوزلي هېوادوال چې په همدې هېوادونو کې د کډوالۍ سختې شېپې ورځې تېروي، د دوی له ظلمونو او ځورونو څخه هم په امان نه دي پاتې او هر سهار او بيګاه په بهلابهلو نومونو ځورول کېږي، رتل کېږي او ان د محکوميت او وژنې لپاره يې بهلابهلې لارې چارې لټول کېږي. لکه څرنګه چې ټولو ته ځرګنده ده، په دې وروستيو کې زمور يو زيات شمېر هېوادوال، تر بهلابهلو نومونو لاندې په ايران کې پر اعدام محکوم او د تېرې مياشتې په لړ کې ۵۰ تنه يې اعدام او جسدونه يې د افغانستان او ايران په ګډه پوله، د افغان دولت سرحدي مامورينو ته وسپارل شول، تر دې وروسته، داسې خبرونه خپاره شول، چې د ايران په قزوين ښار کې درې تنه افغانان د ايرانيانو له خوا سوځول شوي، ورمه ورځ په دې اړه د ملي او نړيوالو رسنيو له خوا په مستند ډول يو بل تازه رپوټ خپور شو، چې په کې ويل شوي وو، ايراني چارواکي د هغو افغان بنديانو چې په دې هېواد کې پر اعدام محکوم شوي، د بدن غړي باسي. په هر صورت، دا هغه نارواوې دي، چې له هېڅ نړيوال نورم او موازينو سره سر نه خوري او ټول ملي او نړيوال حقوقي سندونه يې په کلکه محکموي. دا چې ولې د ايران دولت له يوې خوا له افغان دولت او افغانانو سره د دوستۍ او نېکو اړيکو خبرې کوي او له بلې خوا، په خپل هېواد کې پر مظلومو مهاجرو افغانانو د ژرندې پل ګرځوي، ټولو ته جوته ده، چې د دې هېواد د شيطاني سياستونو او کړنلارو په قاموس کې يوازې ايراني ګټې مطرح دي او بس، دغه ګټې او موخې که په هره طريقه او کړنلارې ترلاسه کېږي، که د هر چا پر وژلو او له منځه وړلو تمامېږي، دغه مسئله دوی ته ارزښت نه لري. په هر حال، دا د افغان دولت تر ټولو ستر او ملي مسوولیت دي، چې په بهر کې د خپلو اتباعو له حال او وضعې څخه ځان خبر او د هغوې ستونزو ته پر ځای او پر وخت رسېدنه وکړي، دا چې افغان دولت تر اوسه پورې په دې اړه څه کړي، دا هم ټولو ته ښکاره ده، چې يوازې د بهرنيو چارو وزارت مرستيال په ايران کې د افغان کډوالو د ستونزو د څېړلو تر نامه لاندې يو ځلې دغه هېواد ته سفر وکړ، چې د دغه سمبولیک سفر د پايلو اغېزه هم لا تراوسه کره نه ده، ځکه ايراني حاکمانو د تېر په شان پر افغان کډوالو د خپلو ظلمونو او نارواوو لړۍ جاري ساتلې او په دې اړه يې په کړنو او کړنلارو کې هېڅ ډول انعطاف او نرمښت نه تر ستر ګو کېږي. داسې ښکاري، چې په دې اړه د افغان دولت اقدامات کافي او کاري نه دي. افغان دولت بايد په دې برخه کې ډېر څه کړي واى او له نړيوالو او سيمه ييزو چينلونو څخه په ګټنې بايد پر ايران دولت فشار راوړى واى، څو پر افغان کډوالو د خپلو ظلمونو او ځورونو لړۍ يې ته د پای ټکی اېښې واى، خو دا ټولو ته جوته ده، چې په دې برخه کې د افغان دولت اقدامات او کړنې ډېرې ټکنۍ، له ځنډ او خنډ سره مخ دي، چې دغه مسئله، د دې ښودنه کوي، چې د افغان دولت چارواکي يا په قصدي ډول نه غواړي چې په دې اړه کوټلي ګامونه واخلي او يا په دې اړه له نهايت بې غورۍ څخه کار اخلي او يا دا چې د پردې تر شا له ايراني چارواکو سره په دې اړه هوکړه لري، چې دا ټولې مسئلې، د يو ملي ضد سياست او پالیسۍ انځور نندارې ته ږدي. خدای دې وکړي، چې افغان دولت له خپلو تېرو ناکاميو او بدنامیو څخه په عبرت اخيستلو سره، د دغه حساسې ملي مسئلې په اړوند، لکه څرنګه چې لازمه ده ګام واخلي او په دې توګه د خپلو مظلومو افغانانو آه او فرياد ته په رښتيني توګه رسيدنه وکړي. په همدې هيله او ارزو.

معیارهای انتخاب نماینده گان مردم

به قلم: دکتراندس م. نبی هیکل

امید می رود توافق رییس جمهور و هیأت پارلمان کشور به آنچه منتج گردد که حقوق جدایی ناپذیر مردم زحمتکش کشور را تضمین نماید. خطر اینکه این توافق بیشتر به سود ایتلاف حاکم یعنی ایلیت حاکم و کلب پارلمانی تمام گردد، با قوت وجود دارد.

گذشته روابط حکومت و پارلمان این حدس و گمان ها را تایید می نماید و گره خورده گی منافع حکومت و مجلس نماینده گان در مقطع حساس کنونی برای نماینده گان مردم در مجلس نماینده گان وحکومت افغانستان نیز، به سوی توافق مصلحت آمیز اشارت دارد. راه دیگر برخورد علمی و مسولانهٔ حکومت و پارلمان کشور به مسألهٔ فرمان رییس جمهور در رابطه با انتخابات می باشد که می تواند، از جاروجنجال های بعدی تا حد زیادی بکاهد و به رعایت حقوق اساسی مردم نیز منتهی گردد. اکنون که قرار است، هیأت مشترک حکومت و پارلمان فرمان را مورد بازنگری قرار دهد، این سوال پیش می آید که این توافق سوپرماسی یا برتری کدام یک از دو قوای مقننه و اجراییه را تخدیر می نماید؟ به عبارت دیگر، قانونگذار در افغانستان کیست؟

سوال دوم به اساس قانونی این مسأله ارتباط می گیرد.

بر اساس مادهٔ ۱۲۱، بررسی مطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین الدول و ... با قانون اساسی و تفسیر آنها بر اساس تقاضای حکومت و یا محاکم مطابق به احکام قانون، از صلاحیت ستره محکمه می باشد.

از سوی دیگر، مادهٔ ۱۵۷ به تشکیل کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، حکم می نماید. تصمیم اخیر بازهم نشان داده می شود که بر سیاست مصلحت گرایی استوار گردیده است. اساسی ترین مسأله، محتوای تصمیمی می باشد که در نتیجهٔ نشست ها آماده می گردد. هیأت می تواند، یکی از سه معیار را برای تعیین چهارچوب کاری خود برای تصمیم گیری برگزیند.

۱) معیار تخصص: معیار تخصص نمایندهٔ مردم بر انتخاب نماینده با درنظرداشت صلاحیت تخصصی و دانش وی استوار است. شرایط نامزدی بر اساس این معیار قابلیت کاری و کیفیت محصولات پارلمان را در صدر توجه قرار می دهد. افغانستان به چنین نماینده گانی نیاز دارد تا بتواند، تصامیم سالم و مسلکی و مطابق منافع ملی کشور را اتخاذ نمایند.

۲) معیارخرید وفروش بازار: معیار خرید و فروش بازار آرای مردم را در معرض خرید و فروش قرار می دهد و رقابت سیاسی و علمی را به رقابت اقتصادی تبدیل می نماید. در این معیار، توانایی و قابلیت و هر مهارت دیگر مانند امتعه مورد تبادله قرار می گیرد. در این معیار، پول و روابط (نیتورکینگ) نقش کلیدی را ایفاء می نماید. فرمان مورد منازعهٔ رییس جمهور به این معیار خدمت می نماید. شرایط نامزدی نماینده گان مردم نه تنها حق انتخاب شدن شهروندان را به مجلس نماینده گان ریاست جمهوری به وجه غیرقابل تبریه تحدید می نماید، بلکه این حق را به کتگوری معین مختص می گرداند.

۳) معیار منافع گروپی: هدف از منافع گروپی منافع ساختارهایی اند که به گونه یی بر پایهٔ تبعیض استوار می باشد. در جوامعی مانند افغانستان، جایی که ساختارهای سیاسی منابع مادی و معنوی را در کشور بر اساس تبعیضات تقسیم کرده اند و هریک دارای ساختارهای سیاسی و تبلیغاتی وامکانات اعمال قدرت اند، معیار دومی و سومی به نفع این نیروها توأم می گردد.

در حالی که در قضیهٔ افغانستان، معیار دومی و سومی به گونه یی یک معیار سومی را به وجود آورده و تمایلات حاکم ایلیت سیاسی حاکم نیز، هدف تقویت عملی این معیار را دنبال می نماید، انتخاب معیار نخست، تنها به سود مردم و حاکمیت آنان می باشد.

بدون شک حکومت این بار نیز، از مهارت های آزموده در سال های زمامداری برای نیل به اهداف خود استفاده خواهد کرد و این به توانایی استدلال، زرنگی و وفاداری اعضای هیأت به مردم و دموکراسی تعلق دارد.

قوهٔ اجراییه از دیر زمان در تلاش است، تا از امکانات قانونی، ابهام ها، عدم صراحت احکام قانون و اختیاراتی که پالیسی فراهم می نماید، استفاده نماید. در این کشاکش سیاسی، هوشیاری و همبستگی قانونگذار می تواند، نقش موثری را ایفا نماید.

در حالی که نقض قانون، اغماض قانون و استفادهٔ ابزاری از قانون به وسیلهٔ آنانی که مسوولیت اجرا و حراست از آن را دارا اند، سابقهٔ چند ساله دارد؛ ما شاهد استفادهٔ ابزاری از قوهٔ مقننه نیز هستیم. از این قوه به سه گونهٔ ذیل تا کنون استفاده صورت گرفته است.

حکومت برای تایید وزرای کابینه نیز، از این تکتیک ها در آینده نیز، استفاده خواهد کرد.

۱) به حیث کلب ایلیت یا ایتلاف حاکم برای رد یا تایید موضعگیری حکومت.

۲) بهره برداری سیاسی از نصاب مجلس در رابطه با اتخاذ تصامیم (مادهٔ یکصد و ششم قانون اساسی).

۳) از راه تطمیع

زمان درستی و نادرستی این پیشبینی را نشان خواهد داد.

بحران افغانستان با همکاری های منطقه یی حل خواهد شد!

احسان پنجشیری

تکرار هر از چندگاه انفجارات و عملیات های تخریبی طالبان در سال گذشته که در مورد اخیر آن تعداد کشته شده گان به حدود ۲۰ تن رسیده و بیش از ۳۰ تن دیگر زخمی شدند، به روشنی ثابت می سازد که طالبان همچنان تهدید جدی یی علیه امنیت و ثبات کشور به حساب می آید. این حملات در حالی پایتخت افغانستان را هدف قرار داد که به تازه گی گزارش های خبری حاکی از پایان یافتن عملیات نیروهای ایتلاف موسوم به عملیات مشترک در ولایت هلمند، علیه طالبان بود. طالبان مسوولیت این اتفاق را بر عهده گرفته بودند. بحران امنیت در کشور همه امور و مسایل دیگر را تحت تأثیر خود قرار می دهد. زیرا طالبان می خواهند، با راه اندازی چنین حملات مرگبار و ایجاد فضای رعب و وحشت در میان مردم بیگناه و بی دفاع، ابتدا مقبولیت دولت و حکومت و همین طور اعتماد ملی نسبت به آنرا از بین ببرد، سپس با راه اندازی اقدامات تخریبی و تبلیغات کاذب و منفی، مشروعیت نظام را در اذهان عمومی زیر سوال ببرند.

مسلماً با توجه به آنکه طالبان بارها این کوشش های بیهوده را کرده اند، اما ملت مسلمان این مرز و بوم درک نموده اند که آنان به نام ملا و طالب به خاطر برآورده شدن منافع باداران شان حملات مرگبار انتحاری و انفجاری را انجام داده که قربانی آن مردم بی گناه و ملکی می گردد که ما شاهد آن هستیم.

بدون تردید، بحران کنونی افغانستان بدون همکاری های منطقه یی حل شدنی نیست، مصالحه بدون همکاری جدی همسایه گان افغانستان بخصوص پاکستان، ممکن نیست و همچنان تلاش های صلح و برنامهٔ پیوستن و برگشتن طالبان به روند صلح نتیجه دهد، به وقت نیاز است؛ چرا ص۳

بحران افغانستان با همکاری...

که تنها به وقت نیاز دارند، تا مسایل پیرامون خود را حل کنند؛ این در حالی است که به گفتهٔ ایشان سطح همکاری پاکستان به دنبال دستگیری های اخیر قوماندانان طالبان در خاک آن کشور تحت سوال قرار می گیرد. در حالی که پاکستان با گرفتاری های اخیر خود به غرب نشان می دهد، که طالبان را در خاک آن کشور سرکوب می کند، اما برعکس آنانی که دراین گرفتاری ها دستگیر شده اند، همهٔ شان متمایل بودند که با حکومت افغانستان مذاکره و گفتگو کنند.

از جانب دیگر، برخی کارشناسان مسایل سیاسی معتقد اند، حملهٔ انتحاری صبح هفتم حوت ۱۳۸۸ در کابل، ادامهٔ تنازعات و کشمکش های بین دهلی نو و اسلام آباد است که در کابل به عرصهٔ ظهور می رسد. به این معنا که این گونه حملات از سوی پاکستان طرح ریزی می شود، تا به این طریق، دولت هند را به بهانهٔ ناامنی از ادامهٔ فعالیت هایش در راستای بازسازی افغانستان منصرف نماید. چراکه دولت هند درحال حاضر در چندین نقطه از کشور در حال اجرای پروژه های سنگین اجرایی می باشد که بیش از یک میلیارد دالر هزینه در بر خواهد داشت به باور این کارشناسان پاکستان هیچگاه نمی خواهد، رقیب دیرینه اش از وی پیشی گیرد. در حال حاضر، پاکستان در تلاش است، تا با تقویت طالبان و دامن زدن به آشفتگی های بیشتر به جامعهٔ جهانی و مردم افغانستان این برداشت را بدهد که تلاش برای ایجاد یک حکومت قوی و مرکزی در افغانستان بیهوده است و بهتر است، برای پایان به دردسرهای جهانی مانند تلفات نظامیان نیروهای خارجی، این کشور بار دیگر به پاکستان سپرده شود. آنچه به نفع کشورهای منطقه است، ثبات و توسعهٔ سیاسی و اقتصادی کشورهای منطقه است که مسلماً به تداوم چنین سیاست های دست یافتنی نخواهد بود. پاکستان و افغانستان با هم درگیر اختلاف های مرزی نیز هست. خط دیورند که درحال حاضر به عنوان مرز افغانستان و پاکستان به حساب می آید، یکی از مهمترین عوامل تنش میان دو کشور و ناامنی در افغانستان است. پاکستان می خواهد، با استفاده از عناصر تندرو در مناطق قبایلی هر زمانی این قبایل را در برابر افغانستان استفاده نماید. حضور ملاعمر و سایر رهبران طالبان در پاکستان در هشت سال گذشته نیز، در همین راستا می تواند، تجزیه و تحلیل شود. از سوی دیگر، مقام های پاکستان نیز، از چند گاهی اتهاماتی را متوجه دولت افغانستان می کند. با توجه به آنچه گفته آمدیم، برای مهار بحران در افغانستان همکاری جدی پاکستان و سایر کشورهای همسایه و منطقه بسیار ضروری است.

تلاش برای پایان تنش...

بر اساس این بیانیه، کمیتهٔ مزبور ماموریت یافت، تا به سرپرستی حبیب الله غالب وزیر عدلیه و با حضور هیأتی از ولسی جرگه و مشاوران حقوقی کرزی، فعالیت خود را آغاز کند، تا طرح مشخصی را برای خروج از بن بست پیشامده تهیه و به رییس جمهور ارایه دهد، تا تصمیم نهایی راجع به قانون انتخابات از سوی دولت اتخاذ شود.

در این دیدار علاوه بر غالب، رنگین دادفر اسپنتا مشاور امنیت ملی و انور جگدلک وزیر دولت در امور پارلمانی افغانستان نیز حضور داشتند و پس از مذاکرات طولانی در مورد قانون انتخابات بر همکاری و تعامل میان قوای سه گانه تاکید شد.

به گفتهٔ محمد کبیر رنجبر عضو حقوقدانان پارلمان در قانون جدید انتخابات بیش از ۲۰مورد تخلف از قانون وجود دارد که با کرزی در میان گذاشته شد.

به اعتقاد نماینده گان ولسی جرگه، در قانون جدید انتخابات، برخی محدودیت‌های ایجاد شده با روح دموکراسی در کشور تناقض دارد و برای مشارکت نباید محدودیت وضع کرد.

رییس قوهٔ مجریه با توجه به تجارب دومین انتخابات بحث برانگیز ریاست جمهوری که ۲۹اسد سال قبل برگزار شد و در راستای واگذاری نقش بیشتر به افغان‌ها در پروسهٔ انتخابات، تصمیم گرفت که در قانون جدید انتخابات پنج عضو کمیسیون بررسی شکایت‌های انتخاباتی همگی افغان باشند.

مطابق قانون قبلی در کمیسیون مربوط، دو افغان منصوب دولت کابل و نیز سه دیپلمات خارجی منصوب نمایندهٔ سرمنشی سازمان ملل متحد در افغانستان شرکت داشتند.

با انتشار قانون جدید از سوی وزارت عدلیه در جریدهٔ رسمی کشور، فشارهای داخلی و خارجی برکرزی افزایش یافت و سرانجام وی مجبور شد، با حضور دو تبعهٔ خارجی تنها در انتخابات آیندهٔ پارلمانی موافقت خود را اعلام کند.

پس از این توافق بود که استفان دی میستورا نمایندهٔ بان کی مون در افغانستان در گفتگو با خبرنگاران از انتصاب دو دیپلومات از عراق و آفریقای جنوبی در کمیسیون بررسی شکایت‌های انتخاباتی افغانستان برای نظارت خبر داد.

کمیسیون مزبور روز شنبه فعالیت خود را به طور رسمی آغاز کرد که به گفتهٔ احمد ضیاء رفعت، طی چند روز آینده دو دیپلومات سازمان ملل به جمع آنان خواهند پیوست.

اقتدار و اهمیت کمیسیون بررسی شکایت‌های انتخاباتی سال قبل پس از آن آشکار شد که این نهاد بعد از بررسی شکایت و اعتراض داوطلبان ریاست جمهوری با ابطال یک میلیون و ۵۰۰ هزار رای که اغلب مربوط به کرزی بود، به دو مرحله‌یی شدن انتخابات ریاست جمهوری رای داد.

سازمان‌ها و نهادهای داخلی و نماینده گان پارلمان پس از موافقت کرزی با حضور دو نمایندهٔ سازمان ملل در کمیسیون مربوط به انتقادات و تلاش‌های خود برای وادار کردن رییس جمهور به تجدید نظر در مورد قانون جدید انتخابات شدت بخشیدند که سرانجام وی پریروز با تشکیل کمیته‌یی برای خروج از بحران موجود موافقت کرد.

به گزارش ایرنا، مطابق قانون جدید هر داوطلب باید دارای حداقل مدرک تحصیلی دپیلوم باشد، حمایت یک هزار رای‌دهنده را با خود ارایه دهد و بتواند،سه هزار افغانی به عنوان تضمین نزد کمیسیون انتخابات که مجری انتخابات است، قرار دهد.

دیگر اعتراض مجلس در مورد مشارکت زنان بود که مطابق قانون اساسی ۲۵درصد کرسی‌های پارلمان اختصاص به این قشر دارد که در قانون جدید یکسری محدودیت هایی در این رابطه اعمال شده بود.

د موکراسی حربهٔ فریبنده یی...

و محوری محافلی که می خواهند، افغانستان را در سطح یک ملت غلام و گوش بفرمان شان داشته باشند، این است که نگذارند، نشرات واقعی زمینه کار داشته باشد، باید نشرات توخالی و پوچ در صحنه بماند و عرصهٔ کار نشرات صاحب اصالت را اخلال و مزاحمت نمایند. هدف سوم این است که با رنگین ساختن سفرهٔ به ویژه نشرات تصویری، نسل جوان از بندها و میثاق های اخلاقی و دینی فاصله گرفته و ذهن و ضمیر خورد و کلان این مملکت فرصت فکر و اندیشه های مسایل اصلی و محوری را نداشته باشد.انتظار ما این است که خارجی ها اگر اهداف و نیاتی زیر چتر دموکراسی دارند، دوستان و کار گزاران خودی چنین نباشند. باید در سیمیناری که به نام دموکراسی و آیندهٔ افغانستان در وزارت اطلاعات و فرهنگ برگزار شد، بتمایل اصلی که زیر نام و چتر دموکراسی و علیه این ملت در شرف انجام است، اشاره می شد؛ باید از محافل خارجی خواسته می شد که دیگر بازی یی را که به نام دموکراسی آغاز کرده اند، پایان دهند. مردم افغانستان می خواهند، مزاحمت های محافل محاکمهٔ بین المللی برطرف شود و همدردی و هماهنگی مردم جهان با مردم افغانستان بر روال طبیعی و اصلی قرار بگیرد.

مولوی فریدون افراسیابی

هیلری کلنتن:

طالبان باید از القاعده جدا شوند

خانم هیلری کلنتن، وزیر امورخارجهٔ امریکا، دیروز در یک مصاحبهٔ تلویزیونی گفت، سران طالبان روند پیوستن به دولت حامد کرزی، رییس جمهوری افغانستان را آغاز کرده اند.

هیلری کلنتن که در گفتگویی با شبکهٔ تلویزیونی امریکایی ان. بی. سی سخن می گفت افزود به باور او تا کنون شماری از سران طالبان تغییر موضع داده و به دولت کابل پیوسته اند. وزیر امور خارجهٔ امریکا گفت اگر سران طالبان دست به این کار می زنند، باید از القاعده نیز جدا شوند و از خشونت دست بردارند و با تحویل سلاح های خود نشان دهند که به قانون اساسی افغانستان احترام می گذارند.

هیلری کلنتن، بنا بر گزارش خبرگزاری فرانسه، میان این پیوستن سران طالبان به دولت و ادغام افراد عادی آنان فرق قایل شده و افراد عادی را در مقام سربازان دانست.

وزیر امور خارجهٔ امریکا در پاسخ به این پرسش که آیا به چشم انداز بازگشت طالبان به دولت رضا داده است، گفت پاسخش به این پرسش منفی است.

به گفتهٔ خانم هیلری کلنتن، فرماندهی نیروهای ناتو و نیروهای ایتلاف بین المللی برای استقرار امنیت در افغانستان یعنی جنرال استانلی مک کریستال بر پیوستن افراد طالبان به دولت نظارت کرده و آن را سازماندهی می کنند.

په هېواد کې د اوبو څلور بندونه جوړېږي

داوبو او انرژی وزارت وایي، چې په راتلونکو درېیو میاشتو کې به د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د اوبو پر څلورو بندونو کار پیل شي.

د یاد شوي وزارت د اوبو د چارو مرستیال انجنیر شجاع الدین ضیایي د غوایي پر ۱۲مه،په کابل کې دیوې خبري غونډې پر مهال وویل، چې دغه بندونه به په کابل، فاریاب، هرات او پکتیا ولایتونو کې جوړ شي. د نوموړي په وینا، په دې بندونو کې د پکتیا د مچلغو بند، په فاریاب کې د المار بند، په کابل کې د شاه وعروس بند او په هرات کې د پاشان بند شامل دي. هغه زیاته کړه چې پر دې بندونو ۲۲۰ میلیونه امریکایي ډالر لګښت راځي، چې د دولت له بودیجې څخه ورکول کېږي. انجنیر ضیایي وویل چې په کابل کې د نوي جوړېدونکي بند جوړولو قرارداد به په راتلونکي اونۍ کې له یوه شرکت سره لاسلیک شي او د پاتې درېیو نورو بندونو قرادادونه به هم ډېر ژر لاسلیک شي. نوموړی وایي، چې ددغو بندونو چارې به د درېیو کلونو په موده کې بشپړې شي.

د اوبو او برېښنا وزارت مرستیال زیاته کړه، چې دغه بندونه له هغو څلورو بندونو څخه دي، چې له لومړنۍ سروې څخه وروسته یې د جوړولو پرېکړه وشوه. هغه زیاته کړه: ((په بغلان، سر پل او فاریاب ولایتونو کې د څلورو نورو بندونو د جوړولو سروې هم شوې او هیله من یم، چې مالیې وزارت ورته په راتلونکي کال کې بودیجه څانګړې کړي.))

د پکتیا اوسېدونکو څو واړې په سید کرم ولسوالۍ کې د مچلغو بند د جوړولو غوښتنه کړې وه، چې د برېښنا د تولید ترڅنګ د هغوی کرنیزې ځمکې هم خړوبې کړي.

انجنیر شجاع الدین ضیایي وویل، چې د مچلغو بند د جوړولو پرېکړه یې د خلکو له غوښتنو سره سم وکړه او له سروې وروسته داوطلبۍ ته وړاندې شو.

دی وایي چې په درېیم وار داو طلبۍ کې یوه شرکت ددغه بند د جوړولو لپاره د ۲۷ میلیونه ډالرو وړاندیز وکړ، چې د مالیې وزارت له خوا رد شو، اوس به له سره داو طلبۍ ته وړاندې کېږي.

د پڑواک د راپور له مخې، د اوبو او برېښنا وزارت یاد شوي مرستیال زیاته کړه، چې د مچلغو بند به ۷۰۰ کیلو واټه برېښنا تولید او ۱۸۰۰ هکتاره ځمکه به هم خړوبه کړي.

هغه زیاته کړه چې د اوبو د بندونو جوړول یې د وزارت له مهمو پلانونو څخه دي او دې کار ته به ادامه ورکړي.

د اوبو او برېښنا وزارت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې ۵۷ میلیارده مټره مکعب اوبه شتون لري، چې یوازې له ۳۰ سلنه یې ګټه اخیستل کېږي او پاتې نور یې ګاونډیو هېوادونو ته ځي.

د ګوزڼ ضد واکسین کمپاین پیل شو

د سوہلي حوزې په څلورو ولایتونو کندهار، هلمند، اروزګان او زابل کې د ماشومانو د ګوزڼ پر وړاندې د واکسیناسیون درې ورځنی کمپاین پیل شو.

د کندهار ولایت دعامي روغتیا رئیس ډاکټر عبدالقیوم پخلا وویل، چې د دغه درې ورځني کمپاین په لړ کې به د یادو شویو ولایتونو یو میلیون او درې سوه زره ماشومانو ته د پولیو د واکسین تر څنګ د ویتامین اې څاڅکي هم ورکړل شي. هغه زیاته کړه چې په کندهار ښار کې به دغه کمپاین د سې شنبې په ورځ پیل او تر پنجشنبې پورې به دوام وکړي، خو په لرې پرتو ولسوالیو او سیمو کې پرون پیل شوی دی.

د نومورې په وینا، په دې کمپاین کې له هغوی سره د ملګرو ملتونو دوه نړیوالې ادارې WHO او UNICEF مرسته کوي.

پخلا د هغو سیمو په اړه، چې د طالبانو تر ولکې لاندې دي، وویل چې تراوسه په کې هغوی له کومې ستونزې سره نه دي مخ شوي او د واکسین د کمپاین په موخه به هلته خپلېډلې ولېږي.

هغه په روان کال کې د سویلي زون په کچه په ماشومانو کې د ګوزڼ د پېښبو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل چې که څه هم په کندهار کې تر اوسه کومه پېښه نه لري، خو د روان کال له پیل راهیسې په هلمند کې ۵ او په زابل کې ۱ پېښه ثبت شوې ده.

د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې د غوایي پر ۱۲مه، د ګوزڼ ضد واکسین کمپاین پیل شو، چې په ترڅ کې به یې میلیونونه ماشومان واکسین شي.

د ننګرهار په جلال اباد ښار کې پرون سهار د والي ګل آغا شېرزي له لوري یوه ماشوم ته د پولیو یاګوزڼ ضد څاڅکو په ورکولو سره دغه کمپاین په رسمي توګه پیل شو.

د ننګرهار عامې روغتیا رییس ډاکټر اجمل پردېس وویل، چې په پام کې ده، په ختیځه حوزه کې له پنځو کلونو کم عمره اوه سوه زره ماشومانو ته دپنځه زره رضاکارانو له لوري په درې ورځو کې واکسین تطبیق شي.

هغه زیاته کړه چې دغه کمپاین دیونیسف،ډبلیو ایچ او او روټري انټرنېشنل په مالي مرسته دعامې روغتیا وزارت له لوري په کار اچول شوی دی.

اجمل پردیس وویل،چې دګوزڼ ضد واکسین ترڅنګ داخل هر ماشوم ته د ویتامین اې څاڅکي هم ورکول کېږي.

دعامې روغتیا رییس وویل، چې دنوي لمریز کال له پیل راهیسې په ټوله ختیځه حوزه کې دپولیو یا ګوزڼ یوه مثبته پېښه لیدل شوې، چې په وینا یې د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې ده. پردېس خوښي وښوده، چې د دولت مخالفانو څه موده وړاندې ژمنه وکړه، چې د عامه خدمتونو پر وړاندې به خنډ، نه جوړوي. د نومورې په وینا، د دوی کارکوونکي به په ډاډه زړه د ختیځو ولایتونو په لرې پرتو او ناامنه سیمو کې هم د ګوزن ضد واکسین تطبیق کړي.

د ننګرهار والي ګل اغا شیرزي دکمپاین د پیل پرمهال وویل: ((له نړیوالې ټولنې مننه کوم، چې له موږ سره یې د پولیو په له منځه وړلو کې مرسته وکړه.))

والي له ډیني علماوو او قومي مشرانو غوښتنه وکړه، چې د ولسونو په پوهولو او د واکسین په تطبیق کې مرسته وکړي.

که اتومي وسلې او وسایل جرم وي،

خو ډبر پرې اخته دي!

مياګل اروال

دافغانانو په عيني فولکور کې ويل شوي چې: يوه ورځ يوې مېرۍ او لېوه پر يوه لښتي او به ځښلې، لېوه د لښتي په برە خوا او مېرۍ د لښتي په ښکته برخه کې او به ځښلې، لېوه چې وليدل، مېرۍ يې په هوا غوښتله، نو د مېرۍ د خوړلو لپاره يې پلمه جوړه کړه ورته ويې ويل: ولې او به را خړوې؟ مېرۍ چې د لېوه په پلمه و پوهېده ويې ويل: او به خو ستا له خوا ښکته راځي، زما له خوا خو پورته نه درځي. لېوه بيا خپلې داړې ور ښکاره کړې چې: نه همدا ته او به خړوې او پر مېرۍ يې ور توپ کړل.

رښتيا چې د زور واو به مخ پورته خېژي، هسې د کمزورو لپاره پلمه ګوري، مور همدغه خبره اوس د سياست په ډګر کې هم په عملي توګه وينو او ګورو، د زور خاوندان سياستوال د خپلو اغراضو لپاره له همدغې تاکتيک څخه کار اخلي. کله چې کوم کمزورى هېواد يا رژيم د دوى له اوامرو او احکامو سرغړونه وکړي، نو دوى پردغو کمزورو تولنو ستر ګې سرې کوي او ان چې يرغل پرې کوي، د هغې ټولنې مادي او معنوي شتمنۍ له يوې مخې په اور سوځي او ايرې يې هم په سيند لاهو کوي.

ماته په دې برخه کې يو سوال پيدا شوى چې ولې د سياست دغه لېوان او د پوځي زور ازمويلو شرمېنان نورې کمزورې ټولنې خپل ښکار بولي؟ ولې ورځخه د ژوند رواحق سلبوي؟ ولې يې وينې ځښي او ولې يې د خپلو غوښتنو قربانۍ کوي. زمور په دينې هدايا تو کې راته ښوونه کېږي: هغه څه چې د ځان لپاره خوښوئ، د بل ورور لپاره يې هم ولوروه. داسې مفهوم هم ورکوي چې که يوڅه د ځان لپاره لازم نه بولي، نو بل هم مه پرې بدمرغه کوه.

له دې خبرو څخه زما هدف دادى، چې ولې په نړۍ کې ځينې هېوادونه چې اتومي وسايل او وسلې لري، هغه ځان ته روا او په خپل ځان پورې منحصر حق بولي، په دې مفهوم چې له دغه وسلو او وسايلو هغه دوه مخې تبغ جوړ وي، چې پخپله پرې مېوې خوري، مزې چرچې پرې کوي او د نورو غوښې پرې خوري او نور پرې وژني، د غه سلوک هماغه د مېرۍ او لېوه کيسه تمثيلوي او يوازې کمزورو ټولنو ته يې د پلمې په ډول استعمالوي. په داسې حال کې چې بې وزلې ټولنې اتومي مسايل او جوړول يې د ژوند اړتيا بولي. زه دلته اتومي وسايل او وسلې چې د انسانانو ژوند پرې له منځه وړل کېږي او يا هغه هېوادونه چې دغه وسلې لري هېڅکله هم نه تاييدوم، نه غواړم چې د غه وسلې دې د انسانانو د ټولوژنې لپاره وکارول شي. په مجموعي ډول بايد ووايم چې ولې د اتومي وسلو او وسايلو لرونکي هېوادونه دومره شرمېنان شي، چې يوازې همدوى د دغو وسلو لرلو او جوړولو حق لري که د دغو وسلو درلودل روا کار وي، نو نورې ټولنې هم بايد ورځخه ګټه واخلي او که ناروا کار وي، نو دوى بيا دا حق له

تلاش برای پایان تنش ها میان دولت و پارلمان

در حالی که دو روز به پایان مهلت قانونی برای ثبت نام داوطلبان دومین دورهٔ انتخابات پارلمانی در افغانستان باقی است، تلاش‌ها میان دولت و ولسی جرگه برای یافتن راهکاری جهت پایان بخشیدن به اختلافات دربارهٔ قانون انتخابات جدید، آغاز شده است.

انتخابات پارلمانی قرار است، روز ۲۷ سنبله به منظور گزینش ۲۴۹ نمایندهٔ ولسی جرگه برای یک دورهٔ چهارساله برگزار شود.

اختلافات پس از آن آغاز شد که حامد کرزی رییس جمهور افغانستان در زمان تعطیلات زمستانی سال قبل ولسی جرگه، قانون پیشنهادی دولت را در مورد انتخابات که به فرمان تقنینی سال ۲۰۱۰ میلادی معروف است، توشیح کرد.

حکومت برای اجرای قانون مزبور، به مصوبهٔ ولسی جرگه نیاز داشت، اما پارلمان طی سه مرحله با اکثریت آراء مخالفت خود را با اجرای مصوبهٔ دولت علی رغم اینکه این قانون در جریدهٔ رسمی کشور چاپ شده بود، نشان داد.

با تشدید تنش ها، هم حکومت و هم پارلمان یکدیگر را به نقض قانون اساسی متهم می‌کردند که ولسی جرگه هفتهٔ قبل و پیش از سفر کرزی به هند و بوتان، هیأتی را برای مذاکره با رییس جمهور تعیین کرد که گفته می‌شود، رییس قوهٔ مجریه حاضر به مذاکره با این هیأت نشد، تا اینکه دیدار آنان پریروز -شنبه - صورت گرفت.

دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری افغانستان در بیانیه‌یی که برای رسانه ها ارسال کرده است، این دیدار را ملاقات مشورتی نامید و از توافق طرفین با تشکیل کمیته یی برای ایجاد همسویی بیشتر در دیدگاه‌های طرفین خبر داد. ص۳

کومه کړ، چې نورې ټولنې دې ورڅخه بې برخې وي.

د مثال په ډول: په عراق کې د صدام حسين سيکولر نظام د نړۍ د زبرځواکونو په طبيعت ښه نه لګېده، هغه رژيم په نړۍ کې ستر نظامي قوت و او په خليج کې د لوبديځوالو د ګټو لپاره لوي خنډ و. دوى دغه ځواک ته د اتومي وسلو د درلودلو او جوړولو پلمه وکړه، په داسې حال کې چې ترڅنګ يې اسراييل همدغه وسلې او وسايل لري، لوبديځوالو همدغه غلطه پلمه داسې وکاروله چې د صدام رژيم يې له مادي او معنوي شتمنيو سره له منځه يووړ، خو تر اوسه يې هلته د اتوم يوه زره هم ونه مينديله.

اوس دغه دى همدغه د لوبديځ واکمن هېواد د امريکا متحد ايالتونه ايران ته هم ګوتې ځنديي او غاښ چيچي ورته کوي، بنديزونه پرې لګوي او همدا ورته وايي چې: ولې مور ته او به خړوې؟ زه د يوه مسلمان افغان په حيث د دغو وسلو له لرلو او جوړولو سره هېڅ علاقه نه لرم. ما په تاريخ کې د ناګاساکي او هيروشيما پېښې مطالعه کړي، چې همدغه پېښې په اوسنۍ نړۍ کې د امريکا د حکومت لپاره د شرم خبره ده. تر دې چې پخپله په هغه هېواد کې هم دغه عمل يو ناروا عمل بلل شوى دى.

اوسنۍ نړۍ هېڅکله هم د دغه راز ورته پېښو هيله نه لري، دا چې د ملګرو ملتونو د امنيت پـه شـورا کـې پنځـه سـتر هېوادونه يـا زبرځواکونه د اتومي وسلو په در لودلو سره ځانونـه د نړۍ پاچاهـان بـولي، هرځـه د دوى زړه غـواړي، هغـه بايـد وشـي، دوى دغـه سـلطنت د ملګـرو ملتونـو تـر چـت لانـدې پټـوي، دا حـق داسـې کـاروي چـې دوى په کې د نړۍ بې تاجه پاچايان دي. دوى چـې تـور تـه سـپين او سـپين تـه تـور ووايـي، هغـه بـه همداسـې وي، چـې دوى ورتـه لـه خپلو عينکو ګوري.

خـو اوس نـړۍ او پـه تبـره بيـا کمـزورې او فقيـرې ټـولنې ښې پـوهېږي، چـې د دوى شـاو خـوا څـه روان دي؟ څـوک څـه کـوي او څـه غـواړي؟ زه د يـوه قلمـوال او ژورنالـيست پـه توګـه د دوى پـر نـاوړه اهـدافو او سـلوکونو باندې ښه پـوهېږم، نـه يـوازې زه بلکې ټول نړيـوال پخپـل چاپېريـال او د ژونـد پـه ډګـر کې ښه پـوهېږي، چـې زبرځواکونـو تـر بوسـو لانـدې او بـه مـو تبـروئ. تاسـې چـې خپلـې سـترګې پټـې کـړي، د نـورو ټولنـو سـترګې پټـې نـه دي. ستاسـې پـه غوښتنـو پـوهېږي، چاته د ړندو او کنـو ګومـان کـوئ، د بې وزلـو ټولنـو د خپلولـو لپـاره پلمـې مـه جـوړوئ، د نړۍ پـه تـاريخ کـې ډېـر استعمارګر د تـاريخ کندې تـه لوبـدلي، داسـې نـه شـي چـې تاسـې هـم پـه دغـه کنـده کـې ورکـوز شـئ او بيـا بـه سر په لاسو وهل ګټه نه رسوي.

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید:
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۷۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه يوازې د سرليکنې ننګه کوي، نورې ليکنې د ليکوال خپل نظر دى، ورځپاڼه يې مسوليت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قيمت يک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امريکايی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امريکايی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتياز: حاجی سيد داؤد
مدير مسوول: خادم احمد
موبايل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتيار
موبايل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com